Fact Sheet

# AFGHANISTAN

UNEP

## په افغانستان کي د غیر متمرکز MEAS تطبیق او د طبیعی منابعو لپاره د کلیدی ظرفیتونو جوړول





د «ریو» کنوانسیونو لکه د ملګرو ملتونو د اقلیم بدلون کنوانسیون (UNFCCC)، د ملګرو ملتونو د بیولوژیکی تنوع کنوانسیون (CBD) او د ملګرو ملتونو د صحرا سازی کنوانسیون (UNCCD) په ګدون، افغانستان د ۱۳ څو اړخیزو چاپیریالی هوکړو (MEAs)، لاسلیک کونکي هیواد دی. د دی MEAs څخه پیروي او رعایت په موخه، د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام (UNEP) او د چاپیریال ساتنې ملي اداره (NEPA) پدې دري کلنه پروژه (۲۰۱۵ – ۲۰۱۷) کې، د MEAs د موخو په اړه د بین الوزارتي همغږې د بهبودی، او د MEAs په پلی کولو کې د ذیدخلو خواو شریکولو، د ژمنو/تعهداتو عملی کولو لپاره د اداراتو تقویت ، او د «ریو» کنوانسیون لپاره د ملي، مالي او اجرائی میکانیزمونو په تقویت کې، له یو بل سره مرسته کوی.

### د پروژې پلی کونکي ادارې:

- د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP)
- د چاپیریال ساتنې ملي اداره (NEPA)

### د دولت مهم شریکان:

- د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت (MAIL)
- د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت (MRRD)
- له طبیعی ناورینونو سره د مبارزی مـلی اداره (ANDMA)
- د بهرنیو چارو وزارت (MoFA)
- د اقتصاد وزارت (MoE)
- غیر دولتی مؤسسې (NGOs)
- د کابل پوهنتون

### د پروژې کلیدی نتایج:

- د MEA یو کاري ګروپ جوړول او د تخنیکی مشاورت هیئت(TAP)
- د MEA یو تطبیقی پلان جوړول
- په "ریو" کنوانسیون پوری د اړوندو NPP لپاره ملي عملي پلانونو تیارول، او د چاپیریالی ارزونې لپاره د یوه چارچوب جوړول.
- د مرکزي او ولایتي ذیدخلو خواو لپاره د ایکوسیستم د مدیریت، د بیولوژیکی تنوع څارنه، چاپیریالی ارزونه، جندر او د MEAs پلی کولو، د بیا نوی کیدلو وړ انرژی، د معلوماتو راغونډول او مدیریت او داسي نورو په هکله تخنیکي مرستې او ټریننګونه.
- د آبخیزه وو پلانګذاری، د ځمکي تخریب، د غریبی او چاپیریال تر منیځ اړیکې او د ایکولوژی اعادي په اړه، په ټولنو کې ازمایشی پروژې.

## د پروژې څانګې

### بین الوزارتي همغږي:

د MEAs اغیزمن پلي کولو لپاره، د وړتیاوو زیاتوالی، د MEAs موخو په اړه په بین الوزارتي همغږی کې ښه همکاري او د MEA لپاره د یوه ملي فعال ګروپ او همدارنګه تخنیکي مشاورتی هیئت را مینځته کول، تر څو د MEA د پلان جوړول د مرکز او ولایاتو په کچه لاربښوونه و کړي.

### د MEA شاملول

په سکتوري پراختیایی پلانو نو کې د "ریو" (CBD، UNFCCC، او UNCCD) د اهدافو تلفیق ، او همد رنګه د "ریو" کنوانسیونونو د لومړېتوبونو لپاره د ملي مالي او اجرا ئی میکانیزمونو تقویت.

### د ولایتي ذیدخلو خواوو د تخنیکي وړتیاوو تقویت

د MEA ژمنو ته عملی شکل ورکولو په موخه د تخنیکي ټریننګونو د تدویر له لاری د محلی مقاماتو: د ولایت کارمندانو، محلي ټولنو او مدني ټولنو د ګروپونو وړتیا/ظرفیت لوړول. د ټریننګ په موضوعاتو کې د ایکوسیستم مدیریت طریقې (د آبخیزه وو پلان جوړول، د ګرافونو جوړول، د ساحې ارزوونه او د ځمکو کارولو فزیکی نقشو جوړول) همدا رنګه پر چاپیریالی تخریب نظارت (نقشو جوړول، د پیښې څخه مخکی خبرونکي سیستمونه او د معلوماتو را غونډول.

### د ذیدخلو خواوو شریکول:

د محلي ذیدخلو خواوو لخوا د MEA په پلې کولو کې په زیاته اندازه برخه اخیستل د غیر دولتی سازمانونو او محلی سازمانونو د وړتیا لوړولو فعالیتونو له لاری د موجوده ولایتی پراختیایی پلانونو مطابق د MEA د غوښتنو په پلي کولو کې د دوی پوهه او توان زیاتول.

gef

**UNEP Afghanistan Programme Manager:** Andrew Scanlon – andrew.scanlon@unep.org www.unep.org/afghanistan www.ecobase.af